# د ساینټ ډینیس کیمپ څخه د مهاجرینو پیغام

## مونږ همدا اوس بدون د کوم شرط او قید څخه سرپناه غواړو!

پولیسو موږ د پاریس څخه وباسلو، موږ اوس مجبور یو چې په ساینټ ډینیس کی د پلونو لاندی اووسیږو، پداسی یوه ځای کی چې مو هیڅوک نه ویني، موږ دا نشو تشریح کولای چې په څه ډول یو غیر انسانی او بدو شرایطو کی اووسیږو، موږ د خوراک لپاره ډوډی نلرو، تشنابونو ته لاس رسی نلرو، د یخنی سره مخ یو، زمونږ د جملی څخه زیاتره کسان د ژمی لپاره لباس نلری، موږ زیاتره کسانو د OFII څخه پیسی ندی تر لاسه کړي او دوی موږ ته د ژوند کولو اساسی توکی هم ندی مهیه کړي، زیاتره مهاجرین په غیر قانوني ډول ټولنیز کارونه تر سره کوي لکه په هوټلونو او نورو مختلفو ځایونو کی، د ورځي په جریان کی موږ د لیکونو په مربوطه بکس کی خطونه اچوو، موږ ستاسی کورونه او سړکونه جوړو، موږ په هوټلونو کی ستاسی لوحی او ظروف وینځو او دی ته ورته نور ډیر کارونه تر سره کوو، خو سربیره پردی موږ د شپی لخوا بیا هم د پلونو لاندی خوب کوو او شپه سبا کوو، دوه هفتی مخکی په کیمپ باندی برق قطع شوی وو، نو موږ د شپی لخوا د برق نشتوالی له امله په تیاره کی پاتی کیدو ځکه لایټونو کار نه کاوه، همدارنګه د تلیفونونو چارچ کولو لپآره مو هیڅ کوم سهولت نه درلود، ځکه تاسی پوهیږی چی موږ باید چی د قانونی اسنادو د تر لاسه کولو لپآره درخواستونه انلاین ولیږو تر څو د OFII څخه د لیدنی په خاطر وخت ونیسو او دی ته ورته نور کارونه هم، دا موږ په انلاین شکل د کوید ۱۹ وبا د محدودیتونو له امله تر سره کوو نو د برق نه شتون له امله موږ دی ډول خدماتو ته لاس رسی نلرو او تری محروم کیږو.




موږ ژر ترژره ددی ځای څخه د وتلو لپآره انتظار باسو تیر ځل چې کومه تخلیه تر سره شوی وه هغه ۷ میاشتی مخکی وه نو اوس موږ نه پوهیږو چې څومره وخت به موږ نور هم منتظر پاتی شو، په کوڅو کی ژوند کول د خلکو هیلی له منځه وړي او دوی ناهیلی کوي او حتی د ژور خفګان سره یی مخامخ کوي، زیاتره یی سخت ناروغه دي کوم چې د جدی ناروغیو د ګواښ سره مخ دي، د کویډ ۱۹ بحران له امله دغه مهاجرینو ته د سرپناه نه ورکول یو جرم دی، لکه څرنګه چې مخکی ذکر شول بعضی کسان د کالونو راهیسی په کوڅو کی شپی او ورځی تیروي، بعضی کسان ډیر مخکی وړل شوی دي خو د هرد کسانو د وړلو څخه وروسته اوپی بیرته نور ډیر شمیر کسان دلته بی سرپناه پریښی او راوړي دي، دا هر څه OFII د دوی د اداری اصولو په اساس تر سره کوي ځکه دوی وایی چی دا هغه کسان دی چی یو ځل خپلو ملکونو ته ډیپورټ شوی او بیرته بیا راغلی دي نو دوی اوس Dublin دی او باید چی ډوبلین پاتی شي، اوپی دا کوشش کوی چی هر ډول ممکنه حالت مساعد کړي تر څو موږ په کورونو کی د ژوند کولو څخه محروم کړي!

په اروپایی، پرانسوي او نورو ټولو قوانینو کی د مصارفو یا اکموډیشن ورکول قانوني جواز لري چی باید مهاجرینو ته ورکړل شي.

موږ د اوپی څخه ژر تر ژره بدون د کوم قید او شرط څخه ددی مهاجرینو لپاره په کیمپ کی ژوند کولو لپآره د سر پناه مهیه کولو غوښتونکی یو.



موږ د فرانسی حکومت څخه غوښتنهه کوو چی د ډوبلین موافقتنامه ودروي.

زیاتره مهاجرین دلته د ډوبلین موافقتنامی له امله د ډیرو مشکلاتو سره مخ دي، ځکه چی ددی موافقتنامی په اساس موږ نشو کولای چی په قانونی ډول د طبعیت اخیستلو لپاره درخواست ورکړو، اوپی هم زموږ حق ددی موافقتنامی سره تړلی دی یعنی دوی موږ ته د اکموډیشن پیسی او پاتی کیدو سهولیت نه راکوي، نو دا څنګه امکان لري چی خلک ددی داسی اساسی حقونو لکه کور او عاید څخه محروم او بی برخی کړي؟ د دغه ډوبلین له امله موږ ونیول شو، بندیان کړل شو، او بیرته خپلو ملکونو ته ولیږل شو، دا څنګه امکان لری چی داسی یو څوک بندی کړل شی چی یواځی او یواځي په یوه ملک کی د پاتی کیدو لپآره یی د قانونی اسنادو غوښتنه کړی وی او هغه دی بیا بندی کړل شی نو ایا دا جرم دی؟ تاسی څنګه کولای شی چی موږ حمایه کړی او زموږ د قانونی اسنادو لپآره درخواستونو پروسه پر مخ یوسئ؟




د ډوبلین موافقتنامه په قانونی ډول د یوه ملک د اسنادو غوښتلو سره په ټکر کی ده، دا یوه احمقانه کړنه ده چی موږ د خپلو قانونی غوښتنو څخه محروموي او زموږ ژوند رابربادوي، ټول اروپايی ایالتونه او حتی اروپآیی اتحادیه غواړي چی دا له منځه ولاړه شی، موږ د فرانسی حکومت څخه غوښتنه کوو چی د ډوبلین دغه موافقتنامه بدون د کوم ځنډ څخه وځنډوی.

موږ دلته د پآتی کیدو لپاره قانوني اسناد غواړو!

موږ خپل ملک پریښی دی ځکه چی زموږ ژوند په خطر کی وو موږ د جنګ، تروریزم، د جنسیت تاوتریخوالی، سیاسی بی ثباتی څخه راتښتیدلی یو، موږ دلته ان مجبور یو چی یواځي د قانونی اسنادو د جواب تر لاسه کولو لپاره په کالونو کالونو منتظر پاتی شو، اوپرا او ساندا بیا بیا ډیر کسان ردوی او زموږ په علاقه کی دغه مشکل ور ځ تر بلی بدتر کیږي، موږ یواځی او یواځی یوه موقع غواړو تر څو به امن او سوله کی ژوند وکړو.

موږ پدی باندی پوهیږو چی د فرانسی حکومت غواړي چی موږ په تنګ کړي تر څو ددی څخه متنفره شو چی دلته پآتی شو، دوی غواړي چی موږ له منځه یوسي، دوی غواړي چی موږ سره وپاشي، لیکن د فرانسی حکومت باید پدی باندی وپوهیږی چی موږ د تللو لپاره هیڅ کوم بل ځای نلرو او همدارنګه موږ هیڅ هم نلرو چی له لاسه یی ورکړو، نو موږ به همدلته پاتی کیږو او په احترامانه شکل به تر اخیره پوری د خپل حق غوښتنه کوو، چی دغه غوښتنی د ټولو مهاجرینو لپاره کورونه، د همیشه پآتی کیدو لپاره قانونی اسناد او د ډبلین سیستم ودرول دي!!

دا متن د مهاجرینو لخوا لیکلي شوی وه

چي داتحادیي په ملاتړ د سینټ ډینس کیمپ پاریس کي اوسیږي

**The exiled people from the camp of Saint Denis**

*with the support of the Gisti, Paris d'exil and Solidarite Migrants Wilson*

دا پیغام د دنوامبر په 2020/4 په یو فرانسوی اخبار libération کی دانترنیت له لار ی نشر شوی دی

*https://www.liberation.fr/debats/2020/11/04/saint-denis-nous-qui-dormons-sous-vos-ponts_1804459*

